بې شکه چې د قیامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زیاته شي او زنا ډیره شي، د شرابو څښل زیات شي، سړي کم شي او ښځې زیاتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به یو سړی کوي

له أنس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي: خامخا به زه تاسو ته یو حدیث بیان کړم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي او زما پرته به یې بل څوک تاسو ته بیان نه کړي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: «بې شکه چې د قیامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زیاته شي او زنا ډیره شي، د شرابو څښل زیات شي، سړي کم شي او ښځې زیاتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به یو سړی کوي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې په دین پوهه به پورته کړای شي، او دا - کار - به د علماوو په مړینې سره کیږي، او په پایله کې جهالت زیاتیږي او خپریږي، زنا او فحاشي خپریږي، د شرابو څښل زیاتیږي، د نارینه و شمېر کمیږي او د ښځو شمېر زیاتیږي، تر دې چې پنځوس ښځې به یو سرپرست ولري تر څو یې چارې سمبالې کړي او پاملرنه ورته ولري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65021